مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۴/۰۵/۰۳

# د پوهنتون خاطرې

## (۱۵)




د خیرالبیان درسي ساعت و. دا د پیروښان مشهور اثر دی. د پیر روښان اصلي نوم بایزید و. بایزید پیر و؛ خو پیري یې د مفت خورۍ ذریعه نه وه ګرځولې؛ بلکې غوښتل یې له دې لارې پښتانه په ځان راټول کړي او د ظالمو یرغلګرو مغلو مقابلې ته ودریږي. د ده د لقب (پیر روښان) په اړه یو عجیب روایت دی:
شپه ده. بایزید له خپلو مریدانو سره په خونه کې ناست دی. ډیوه بلیږي، مجلس اورد شو. د ډیوې تېل په خلاصیدو شول. یو مرید ورته همدا اطلاع ورکړه او زیاته یې کړه چې تېل هم نشته! بایزید ورته وویل چې ډیوه له اوبو ډکه کړئ! مرید په حیرانۍ ور وکتل؛ خو د حکم اطاعت یې وکړ. ډیوه یې ډکه کړه او اوبه پکې داسې سوزیدلې لکه تېل!
له همدې پیښې راهیسې، مریدانو خپل پیر د پیر روښان په نوم یاد کړ.
په هغه ورځ موږ د پیښوریو په خبره همدا پیران او زیارتونه چیړل چې اروابښاد پوهاند تقویم الحق کاکاخېل صیب ټولګي ته راننوت. هغه مو هم بحث کې شامل شو.
د زیارتونو په اړه مې ترې وپوښتل او بیا مې ورته ویل: استاده، زیارتونو ته عقیده لرې؟ هغه موسک شو او بیا یې ویل: ولې به یې نه لرم؛ ماته خو باقاعده هره میاشت د کاکا صیب له زیارته خپله برخه رارسیږي!
د کاکا صیب زیارت په نوښار کې دی. خپله مې نه دی لیدلی؛ خو اوریدلي مې دي چې ښه ګڼه ګونه پرې جوړه وي. خلک نذرونه، شکرانې او صدقات ور وړي او په دې خاورو کې له پروت بې وسه او خاورې شوي جسده، د ژوند مرادونه غواړي.
د زیارت همدا عایدات راټولیږي او بیا یې د زیارت د ورثه و د کورنیو د سهمونو مطابق هغوی ته ویشل کیږي .
کاکاخېل صیب، د دې زیارت په اړه عجیبه کیسه وکړه او موږ ټول یې ولړزولو. هغه ویل:
د کاکا صیب زیارت کې میشت یو پیر وفات شوی و. موږ یو رسمي پلاوی یې د جنازې او تدفین لپاره ورغلو. کامرې ( خونې) ته یې ننوتلو او د هغه شیان مو راټول. البمونه مو لاس ته راغلل. په هغه کې بربنډ عکسونه ول. سخت یې خپه کړو. دا مو ټول راټول کړل او ومو سوزول.
ما ویل استاذه، نو ولې مو سوزول؟ رسوا کړي به مو ول چې اصلي څهره یې خلکو پیژندلې وای.
هغه موسک شو: ګوره، دا ښځې خو له یوروپ او یا کوم بل وطنه نه وې راغلې. که دا عکسونه یې خواره شوي وای، یوه فتنه به برپا شوې وه. کورونو کې به ښځې وژل شوې وې. نو، کار خو هسې هم شوی و، د دې لپاره چې د قتلونو مخه ونیول شي؛ نو ټول البمونه مو وسوزول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

شاید، په دې عکسونو کې به هغه میرمنې هم شاملې وې چې ناپوه میرونه او نور مشران یې د نارینه اولاد د نه راوړلو له کبله ځوروي، شکنجه کوي یې او حتا ورته ګواښ کوي چې که بل ځل نارینه اولاد ونه زیږوي، نو و به وژل شي او یا به طلاقه شي. په ځینو دغسې بې وسه میرمنو چې ځمکه سور تنور شي او د هغه ځه جدي غوښتنه ترې وشي چې د دې یوه ذره هم په واک کې نه وي؛ نو هرې درګاه ته مراجعه کوي چې بالاخره بعضې وخت په کمین کې له ناستو او د هوس له دغسې وږو لیوانو سره هم مخ شي.
په هرصورت؛
پروفیسر استاد تقویم الحق، کاکا صیب په ښه نوم یاداوه. هغه یې د خپل وخت یو متقي او روحاني شخص باله .
په کاکا صیب، شیخ رحمکار او ژیړي بابا مشهور دا روحاني مشر اصلا سید کستیر ګل نومیده. د نوموتي څیړونکي اغلي صفیه حلیم د یوې مقالې په حواله؛ کستیر ګل په ۹۸۳ هجري کې زیږیدلی و او په اتیا کلنۍ کې په داسې حال کې وفات شو چې د جمعې د لمانځه خطبې اوریدو ته د خدای ج په کور( جومات) کې ناست و. کستیرګل مشهور په کاکا صیب، په وړوکوالي کې قرانکریم حفظ کړی و او د خپل وخت له نامتو دیني علماو یې زدکړې، کړې وې. ده به له خلکو لیرې په ځنګله کې عبادت کاوه. د ډیر کم خوراک له کبله کمزوری شوی و؛ نو ځکه خلکو د ژیړي بابا په نوم هم یادوه. ده له خپل پلار سید بهادر څخه د سهروردیه طریقې لاسنیوی کړی و. ویل کیږي چې ده به له هر چا سره ښه سلوک کاوه، آن په ځناورو او مرغانو به یې رحم کاوه، هغوی ته به یې خواړه ورکول؛ نو ځکه خو یې د رحمکار لقب هم ګټلی و.
شیخ رحمکار، په شاوخوا سیمو او خټکو قبیله کې ډیر نفوذ درلوده، ډیرو خلکو ورته عقیدت لره او ګڼ مریدان یې درلودل. د خوشحال بابا یو ورور جمیل بیګ یې هم مرید او خلیفه و. خپله خوشحال بابا خو ورته دومره عقیدت درلوده چې ویل به یې:

"د خوشال تکیه په خدای ده
بیا په تا شیخ رحمکاره"


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ